قرآني بيان

# د حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَام د عِلم وُسعت [پراختيا]

د مَدَني مرکزونو (فيضانِ مدينه) او د شعبه اِمام مساجد (دعوتِ اِسلامي) لاندې جوماتونو د پاره

په 5 دسمبر، کال 2025ء
(بمطابق: 13 جمادي الاخرىٰ، کال 1447ھ)
د جُمعةُ المبارک



د مَدَني مرکزونو (فیضانِ مدینه) او د شعبه اِمام مساجد (دعوتِ اِسلامي) لاندې جوماتونو د پاره

پهٔ 5 دسمبر، کال 2025ء (بمطابق: 13 جمادي الاخرىٰ، کال 1447ھ) د جُمعَةُ المبارک

قرآني بیان

پهٔ نوم

# د حضرت آدم عَلَیْهِ السَّلَام د عِلم وُسعت [پراختیا]

په دې بیان کښې به تاسو زده کړئ...

- د خوږ مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د عِلم وُسعت[پراختیا]
- شیطان او د انبیائے کرامو عَلَیْهِمُ السَّلَام عِلم
- علیمِ دِین زده کول ولې ضروري دي؟
- دعوتِ اِسلامي او د عِلمِ دِین وده

پیشکش

اَلْمَدِیْنَةُ الْعِلْمِیَة

Islamic Research Center

(شعبہ: بیاناتِ دعوتِ اسلامی)

FOR FEEDBACK
(+92) 315 2692 786

GET MORE SPEECHES
(+92) 310 8882 033

اَلۡحَمۡدُ لِلّٰهِ رَبِّ الۡعٰلَمِیۡنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰی خَاتَمِ النَّبِیّٖن
اَمَّا بَعۡدُ فَاَعُوۡذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیۡطٰنِ الرَّجِیۡمِ بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَیۡكَ یَا رَسُوۡلَ الله وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصۡحٰبِكَ یَا حَبِیۡبَ الله
اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَیۡكَ یَا نَبِیَّ الله وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصۡحٰبِكَ یَا نُوۡرَ الله

نَوَیۡتُ سُنَّتَ الۡاِعۡتِکَافِ (ترجمه: ما د سُنَّت اعتکاف نِيَّت اوکړو)

## د دُرُودِ پاک فضيلت

د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: اِذَا نَسِيۡتُمۡ شَيۡئًا فَصَلُّوۡا عَلَیَّ تُذَکِّرُوۡهُ اِنۡ شَآءَ اللهُ تَعَالٰی کله چې ستاسو نه څهٔ هير شي نو پهٔ ما باندې درود لولئ! اِنۡ شَآءَ اللهُ الۡکَرِيۡم! هير شوے څيز به درياد شي۔ (1)

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِيۡب! صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

قَالَ اللهُ تَبَارَكَ وَتَعَالٰی فِی الۡقُرۡاٰنِ الۡکَرِيۡم (الله پاک پهٔ قرآنِ کريم کښې فرمائي):

وَعَلَّمَ اٰدَمَ الۡاَسۡمَآءَ كُلَّهَا ثُمَّ عَرَضَهُمۡ عَلَى الۡمَلٰٓئِكَةِ فَقَالَ اَنۡۢبِـُٔوۡنِىۡ بِاَسۡمَآءِ هٰٓؤُلَآءِ اِنۡ كُنۡتُمۡ صٰدِقِيۡنَ ﴿۳۱﴾ قَالُوۡا سُبۡحٰنَكَ لَا عِلۡمَ لَنَآ اِلَّا مَا عَلَّمۡتَنَا ؕ اِنَّكَ اَنۡتَ الۡعَلِيۡمُ الۡحَكِيۡمُ ﴿۳۲﴾ قَالَ يٰٓاٰدَمُ اَنۡۢبِئۡهُمۡ بِاَسۡمَآئِهِمۡ ۚ فَلَمَّآ اَنۡۢبَاَهُمۡ بِاَسۡمَآئِهِمۡ ۙ قَالَ اَلَمۡ اَقُلۡ لَّكُمۡ اِنِّىۡٓ اَعۡلَمُ غَيۡبَ السَّمٰوٰتِ وَالۡاَرۡضِ ۙ وَاَعۡلَمُ مَا تُبۡدُوۡنَ وَمَا كُنۡتُمۡ تَكۡتُمُوۡنَ ﴿۳۳﴾

صَدَقَ اللهُ الۡعَظِيۡم وَصَدَقَ رَسُوۡلُهُ النَّبِیُّ الۡکَرِيۡم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

ترجمهٔ کنزُالعِرفان: او الله آدم ته د ټولو څيزونو نومونه وښودل بيا يې هغه ټول څيزونه فرښتو ته وړاندې کړل او اوئې وئيل: که تاسو رښتيني يئ نو د دې نومونه وښايئ۔

---

[1]... القول البديع، الباب الخامس فی الصلاة عليه...الخ، الصلاة عليه لمن نسی شيئاً، صفحه:227۔

(فرښتو) عرض اوکړو (اے الله!) پاکي ده تا لره، مونږ خو صرف دومره عِلم لرو څومره چې تا را زده کړے دے، بے شکه هُم تهٔ عِلم والا او حِکمت والا يــې- (بيا الله) وفرمائيل: اے آدمه! تهٔ دوئي ته د دې څيزونو نومونه وښايه، نو چې کله آدم هغوئي ته د هُغه څيزونو نومونه وښودل نو (الله) وفرمائيل: (اے فرښتو!) آيا ما تاسو ته نهٔ وو وئيلي چې ما ته د اسمانونو او زمکې ټول پټ څيزونه معلوم دي او ما ته معلوم دي هُغه څهٔ، چې تاسو يــې ښکاره کوئ او هُغه څهٔ چې تاسو يــې پټوئ-

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! مونږ د وړومبۍ سيپارې د سورۀ بقره د دريو آيتونو (آيت: 31، 32 او 33) او د دې د ترجمې د اوريدو سعادت حاصل کړو- پهٔ دې آيتونو مبارکو کښې د اِنسان د اَشرفُ المَخلوقات (يعني د الله پاک پهٔ ټول مخلوق کښې پهٔ ټولو باندې د فوقيت لرلو والا) او د خِلافت د منصب (پهٔ زمکه باندې د الله پاک د احکامو د نافذ کولو) د حقدار کيدو يو سبب بيانولے شي - راځئ چې وړومبے د دې آيتونو مبارکو خُلاصه واورو، بيا د دې نه د ميلاؤيدونکو سبقونو د اوريدو سعادت حاصلوو-

## د آيتونو مبارکو خُلاصه

د تيرې جُمعې پهٔ ورځ مونږ اوريدلي وو چې الله پاک د حضرت آدم عَلَیْهِ السَّلَام د جوړولو نه مخکښې فرښتو ته وفرمائيل چې زهٔ پهٔ زمکه کښې خپل خليفه جوړولو والا يم- پهٔ دې باندې فرښتو عرض اوکړو: اے کريم مالِکه! آيا داسې کس به خليفه جوړوې کوم چې به پهٔ زمکه کښې فساد خوروي، وينه به توئيوي او مونږ ستا پاکي بيانوو، ستا حمد او ثنا کوو- الله پاک وفرمائيل:

| | |
|---|---|
| اِنِّیْۤ اَعْلَمُ مَا لَا تَعْلَمُوْنَ ﴿۳۰﴾ (پاره:1، سورۀ البقرة:30) | ترجمهٔ کنزُالعِرفان: بے شکه ماته هغه معلوم دي څهٔ چې تاسو ته نهٔ دي معلوم- |

دا يو جواب کوم چې الله پاک فرښتو ته پهٔ مختصر توګه اِرشاد کړے وو، د دې تفصيل

او وضاحت داسې اوکړے شو چې الله پاک حضرت آدم عَلَيۡهِ السَّلَام جوړ کړو او هغوئي ته يـې عِلمُ الاَسمَاء (يعني د نومونو عِلم) عطا کړو، بيا هُغه ټول څيزونه د کومو نومونه چې حضرت آدم عَلَيۡهِ السَّلَام ته ښودلے شوي وو، هغه د فرښتو مخې ته کړے شو او حکم وشو: اے فرښتو! تاسو د دې نومونه واخلئ! فرښتو ته د هُغه څيزونو نومونه نۀ وو معلوم، څکه هغوئي پۀ عاجزئ سره عرض اوکړو: اے کريم ربه! تۀ پاک يـې، مونږ ته خو بس دومره معلوم دي، څومره چې راته تا رازده کړي دي- بيا الله پاک حضرت آدم عَلَيۡهِ السَّلَام ته وفرمائيل: اے آدمه! د دې څيزونو نومونه وښايه! حضرت آدم عَلَيۡهِ السَّلَام د هُغه ټولو څيزونو نومونه وښودل! پۀ دې باندې الله پاک وفرمائيل: اے فرښتو! آيا ما نۀ وو وئيلي چې ما ته هُغه څۀ هم معلوم دي کوم چې تاسو ښکاره کوئ او هُغه څۀ راته هم معلوم دي کوم چې تاسو پټوی-

دا د دې آيتونو مضمون دے، اوس راځئ چې آيتونه او د هغې ترجمه واورو، اِرشاد دے:

وَ عَلَّمَ اٰدَمَ الۡاَسۡمَآءَ کُلَّهَا ثُمَّ عَرَضَهُمۡ عَلَی الۡمَلٰٓئِکَةِ ۙ فَقَالَ اَنۡۢبِـُٔوۡنِیۡ بِاَسۡمَآءِ هٰۤؤُلَآءِ اِنۡ کُنۡتُمۡ صٰدِقِیۡنَ ﴿۳۱﴾ قَالُوۡا سُبۡحٰنَکَ لَا عِلۡمَ لَنَاۤ اِلَّا مَا عَلَّمۡتَنَا ؕ اِنَّکَ اَنۡتَ الۡعَلِیۡمُ الۡحَکِیۡمُ ﴿۳۲﴾ قَالَ یٰۤاٰدَمُ اَنۡۢبِئۡهُمۡ بِاَسۡمَآئِهِمۡ ۚ فَلَمَّاۤ اَنۡۢبَاَهُمۡ بِاَسۡمَآئِهِمۡ ۙ قَالَ اَلَمۡ اَقُلۡ لَّکُمۡ اِنِّیۡۤ اَعۡلَمُ غَیۡبَ السَّمٰوٰتِ وَ الۡاَرۡضِ ۙ وَ اَعۡلَمُ مَا تُبۡدُوۡنَ وَ مَا کُنۡتُمۡ تَکۡتُمُوۡنَ ﴿۳۳﴾ (پارہ:1، سورۂ البقرة:3331)

ترجمهٔ کنزُالعِرفان: او الله آدم ته د ټولو څيزونو نومونه وښودل بيا يـې هغه ټول څيزونه فرښتو ته وړاندې کړل او اوئې وئيل: که تاسو رښتيني يـې نو د دې نومونه وښايئ- (فرښتو) عرض اوکړو (اے الله!) پاکي ده تا لره، مونږ خو صرف دومره عِلم لرو څومره چې تا را زده کړے دے، بے شکه هُم تۀ عِلم والا او حِکمت والا يـې- (بيا الله) وفرمائيل: اے آدمه! تۀ دوئي ته د دې څيزونو نومونه وښايه، نو چې کله آدم هغوئي ته د هُغه څيزونو نومونه وښودل نو (الله) وفرمائيل: (اے فرښتو!) آيا ما تاسو ته نۀ وو وئيلي چې ما ته د اسمانونو او زمکې ټول پټ څيزونه معلوم دي او ما ته معلوم دي هُغه څۀ، چې تاسو يـې ښکاره کوئ او هُغه څۀ چې تاسو يـې پټوی-

# د آیتونو مبارکو نه حاصلیدونکي سبقونه

## د حضرت آدم عَلَیْہِ السَّلَام د عِلم وُسعت (پراختیا)

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! د دې آیت مبارک په رڼا کښې خو ورومبے د حضرت آدم عَلَیْہِ السَّلَام د عِلم په پراختیا باندې غور اوکړئ! الله پاک هغوئي ته څومره بے مثاله او د کمال والا عِلم عطا کړے وو:

| | |
|---|---|
| وَعَلَّمَ اٰدَمَ الْاَسْمَآءَ كُلَّهَا (پاره:1، سورۂ البقرۃ:31) | ترجمهٔ کنزُ العِرفان: او الله آدم ته د ټولو څیزونو نومونه وښودل- |

اَسمَاء د اِسم جمع ده، د دې معنیٰ وي: علامت، پیژندګلو، نوم-[1] یعنې الله پاک حضرت آدم عَلَیْہِ السَّلَام ته نومونه وښودل- د کوم څیز؟ فرمائي:

كُلَّهَا

یعنې د هر څیز نوم او د هغې پیژندګلو یې وروښودله- په رُوحُ البیان کښې علّامه اِسماعیل حَقِّي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د دې لفظ كُلَّهَا په وضاحت کښې فرمائي: آدم عَلَیْہِ السَّلَام ته د ټولو فرښتو، د قیامته پورې د هغوئي د راتلونکي ټول اولاد، د ټولو حیواناتو (یعنې ځناورو)، جماداتو (یعنې د ساه نۀ لرونکو څیزونو)، مرغو، حشراتو او د هر ساه لرونکي کوم چې د قیامته پورې پیدا کیدونکي وو، د هُغه ټولو نومونه، د ټولو ښارونو او کلو نومونه، د هر پټي، پانړې، د جَنَّت د هر یو نعمت بلکې داسې ووایئ چې د هر وړوکي او غټ څیز، تر دې چې د پیالۍ، ډال او د پټیو د لوښلو د لوښي نوم هم هغوئي ته ښودلے شوے وو-[2]

الله! الله! د عِلم څومره ښکلے شان دے---!! د دې عِلمُ الاَسمَاء نور وضاحت واورئ! د قرآنِ کریم مشهور مفسر، حکیم الاُمّت مفتي احمد یار خان نعیمي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه لیکلي دي:

---

[1]…تفسیر نعیمی، پارہ:1، البقرۃ، زیر آیت:31، جلد:1، صفحه:271۔

[2]…تفسیر روح البیان، پارہ:1، سورۃ البقرۃ، زیر آیت:31، جلد:1، صفحه:100 خلاصةً، دار احیاء التراث۔

پهٔ دُنیا کښې د اول نه تر د اخرت پورې پهٔ لکونو ژبې وئیلے کیږي او د هرې ژبې حروف او الفاظ بیل بیل دي، د کومې نتیجه چې دا شوه چې پهٔ دُنیا کښې پهٔ کروړونو څیزونه دي او د هر څیز پهٔ لکونو صفتونه او د هر صفت پهٔ لکونو نومونه، بیا د نوم د لیکلو او د وئیلو لکونه طریقې دي مثلاً اوبو ته پهٔ اُردو کښې **پانی**، پهٔ فارسی کښې **آب**، پهٔ عربی کښې **مَاءٌ**، پهٔ هندی کښې **جَل**، پهٔ انګریزی کښې **واټر** او پته نهٔ لګي چې پهٔ کومه کومه ژبه کښې به ورته څهٔ څهٔ وئیلے کیږي؟ بیا د دې اوبو پهٔ زرګونو حالتونه او قِسمونه دي، مثلاً یخې، ګرمې، صفا، ګنده، تروې، خوږې، درنې، سپکې، ټینګې، نرۍ، سپینې، تورې وغیره (پهٔ مختلفو ژبو کښې د دې ټولو حالتونو بیل بیل نومونه دي) دا ټول علوم حضرت آدم عَلَیْهِ السَّلَام ته ورکړے شو [1] او علمائے کرامو لیکلي چې **آدم عَلَیْهِ السَّلَام ته د 7 لاکهه ژبو عِلم ورکړے شو او هغوئي پهٔ زرو [1000] پیشو کښې ښهٔ ماهر وو.** [2]

اَللّٰهُ اَکْبَر! لږ سوچ خو اوکړئ چې د دې عِلم څهٔ حَد هم شته--!! اِمامِ رازي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د دې **عِلمُ الاَسمَاء** د پراختیا نه نوره پرده اوچته کړې ده، هغوئي فرمائي: **اَسمَاء** د اِسم جمع ده او د اِسم یوه معنیٰ پیژندګلوهم وي، بیا به مطلب دا جوړیږي چې الله پاک حضرت آدم عَلَیْهِ السَّلَام ته د ټولو څیزونو د حقیقتونو عِلم هم ورکړو [3] مثلاً د اوبو فارمولا څهٔ ده؟ $H_2O$ یعني دوه حصې چې هائیډروجن او یوه حصه اکسیجن وي نو اوبه ترینه جوړیږي، دا د اوبو حقیقت دے، دغه شان د هر یو څیز حقیقت، د دې خاصیت مثلاً د اوبو څهٔ څهٔ طِبي فائدې دي؟ څهٔ څهٔ نقصانونه دي؟ کوم یو بوټے د کوم کار د پاره دے؟ د کوم یو څیز فائده څهٔ ده؟ نقصان یې څهٔ دے؟ د دې ټولو خبرو عِلم الله پاک حضرت آدم عَلَیْهِ السَّلَام ته ښودلے وو۔

---

[1]... تفسیر نعیمی، پارہ:1، البقرۃ، زیر آیت:31، جلد:1، صفحہ:230۔ مکتبہ اسلامیہ

[2]... تفسیر روح البیان، پارہ:1، سورۃ البقرۃ، زیر آیت:31، جلد:1، صفحہ:100 ملتقطًا، دار احیاء التراث۔

[3]... تفسیر کبیر، پارہ:1، البقرۃ، زیر آیت:31، جلد:2، صفحہ:192 خلاصۃً۔ دار الفکر بیروت۔

حق نے عِلمِ اَسما دیا | جو نہ ملائک کو بخشا
وہ مَلَکہ فرمایا عطا | ان پر اُن کو غلبہ دیا

لَا اِلٰهَ اِلَّا الله اٰمَنَّا بِرَسُوْلِ الله

آدم کو شرف ایسا مِلا | آدمی اشرفِ خلق ہوا
اُن کو خلیفہ حق نے کیا | تاجِ کرامت سَر پہ رکھا

لَا اِلٰهَ اِلَّا الله اٰمَنَّا بِرَسُوْلِ الله (1)

## د خوږ مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د عِلم وسعت (پراختيا)

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** دا خو د حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَام د عِلم پراختيا ده، اوس لږ د حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَام د آقا، سَيِّدُ الانبيا، اِمامُ الانبيا، سَيِّدُنا، مولانا مُحَمَّدٌ رَّسُولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د عِلم کمال ته هم وګورئ! نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: عُلِّمْتُ الْاَسْمَاءَ كُلَّهَا كَمَا عُلِّمَ آدَمُ الْاَسْمَاءَ كُلَّهَا يعني لکه چې څنګه حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَام ته د ټولو څيزونو د نومونو عِلم ورکړے شوے وو، هم داسې ما ته هم د ټولو څيزونو د نومونو عِلم راکړے شوے دے۔ (2)

نُورِ عِلم و حکمت والے، نافِذ جاری حکومت والے
رَبّ کی اعلیٰ خلافت والے تم پر لاکھوں سلام

دا خو د عِلمُ الاَسماء خبره ده، رَبِّ کائنات د خپل خوږ محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د عِلم په باره کښې فرمائي:

وَعَلَّمَكَ مَا لَمْ تَكُنْ تَعْلَمُ ؕ (پاره:5، سورۃ النساء:113)

ترجمهٔ کنزُالعِرفان: او تا ته يې هغه څۀ در زده کړل کوم چې تا ته نۀ وو معلوم۔

1 ...سامانِ بخشش، صفحه:44۔

2 ...مسند الفردوس، باب الميم، جلد:4، صفحه:166، حديث:6519۔دار الکتب العلميه۔

پهٔ دې کښې نهٔ د نوم ذِکر شته، نهٔ د حرفونو بلکې مُطلق (بغير د څهٔ قيد او بند نه) وفرمائيلے شو: اے محبوبه! تاسو سره چې د څهٔ عِلم نهٔ وو، مونږه تاسو ته وښودلو- سُبْحٰنَ الله! هُغه عِلمُ الاَسمَاء (کوم چې حضرت آدم عَلَیْہِ السَّلَام ته ورکړے شوے وو، هغه) زمونږ د محبوب صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د عِلم د درياب يو څاڅکے دے، [1] چې د دې عِلم دا شان دے چې د دې د پراختيا اندازه نشي کيدے نو د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د عِلم د پراختيا به څهٔ حالت وي؟ اِمام بوصيري رَحْمَةُ اللّٰہِ عَلَیْہ ليکلي دي:

لَكَ ذَاتُ الْعُلُومِ مِنْ عَالَمِ الْغَيْبِ | وَ مِنْهَا لِآدَمَ الْاَسْمَاءُ [2]

مفهوم: اے خوږه محبوبه صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم! تاسو ته د عالَمِ غيب نه بے شميره عِلمونه عطا کړے شو، هُغه عِلمُ الاَسمَاء کوم چې حضرت آدم عَلَیْہِ السَّلَام ته ورکړے شوے وو، ستاسو پهٔ بے شميره علمونو کښې يو عِلم دے-

عالَم کی خبر رکھتے ہیں گروہ تو عجب کیا | بھیجا ہے خُدا نے انہیں ہر عِلْم سکھا کر
تعلیم دی اِک نام کو جبریلِ اِمیں نے | عالِم کیا اللہ نے خُود ان کو پڑھا کر [3]

## شيطان او د انبيائے کرامو عَلَیْہِمُ السَّلَام عِلم

د بعضو خلقو دا وهم شوے وو چې د شيطان معلومات د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د عِلم نه زيات دي، د قرآنِ کريم مشهور مفسر، حکيم الاُمّت مفتي احمد يار خان نعيمي رَحْمَةُ اللّٰہِ عَلَیْہ د هغوئي د وهم د ختمولو د پاره ليکلي دي: دا چې کومه معامله وشوه چې الله پاک حضرت آدم عَلَیْہِ السَّلَام ته عِلمُ الاَسمَاء وښودل، بيا يې هُغه ټول څيزونه د فرښتو مخې ته راوړل او اوئې فرمائيل: اے فرښتو! د دې نومونه وښايئ! دا

---

1 …تفسير نعيمی، پاره:1، البقرة، زير آيت:31، جلد:1، صفحه:230 خلاصةً- مکتبه اسلاميه

2 …ديوان بوصيری، قافية الهمزة، صفحه:9- دار الکتب العلميه

3 …قباله بخشش، صفحه:139-

معامله د شيطان لعين د مردود كيدو نه مخكښې ده، يعني د فرښتو په دې ډله كښې شيطان هم موجود وو، دا پوښتنه د شيطان نه هم شوې وه او شيطان د حضرت آدم عَلَيۡهِ السَّلَام سره حسد هم كولو، كه د شيطان عِلم د حضرت آدم عَلَيۡهِ السَّلَام د عِلم نه زيات وے نو شيطان به ضرور د دې څيزونو نومونه وئيلي وو خو د حضرت آدم عَلَيۡهِ السَّلَام په مخكښې د هغهٔ عِلم ډير كمزورے وو، ځكه هغه د دې څيزونو نومونه اونهٔ ښودلے شو- اوس لږ غور اوكړئ! چې د شيطان عِلم د حضرت آدم عَلَيۡهِ السَّلَام د عِلم نه هم كم دے نو د اِمامُ الانبيا، د مُحَمَّدِ مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د عِلم نه څنګه زيات كيدے شي- (1)

يقيناً چې د خوږ آقا و مولا، مكي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عِلم هُغه د كمال او بے مثاله عِلم دے د كوم حد پيژندل چې د بندګانو د وَس كار نهٔ دے-

صَلُّوا عَلَى الۡحَبِيب!     صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د عِلمِ دِين فضائل

**خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو!** مونږ قرآني آيتونه واوريدل، په دې كښې چې د زدكړې د پاره د ټولو نه اهمه كومه خبره ده، هغه دا ده چې **د فرښتو پوښتنه وه چې اخر انسان د خِلافت د منصب حقدار څنګه كيدے شي؟** د دې په جواب كښې الله پاک هغوئي ته اونهٔ وئيل بلكې اوئې ښودل چې حضرت آدم عَلَيۡهِ السَّلَام د هغوئي نه په عِلم كښې فوقيت لري، د هغوئي عِلم د فرښتو د عِلم نه زيات دے، ځكه حضرت آدم عَلَيۡهِ السَّلَام د خلافت د منصب حقدار دے، كله چې فرښتو د حضرت آدم عَلَيۡهِ السَّلَام عِلمي مقام او مرتبه وليدله، نو بيا هغوئي ته حكم وشو چې اوس هغوئي ته سجده اوكړئ! بيا فرښتو هغوئي ته سجده اوكړه او په عملي توګه يې د هغوئي په تعظيم كولو د هغوئي خِلافت اومنو-

اوس د دلته نه مونږ ته د عِلم فضيلت معلوميږي او دا معلوميږي چې اِنسان له چې

1…تفسير نعيمى، پاره:1، البقرة، زير آيت:31، جلد:1، صفحه:240 خلاصةً- مكتبه اسلاميه

کومې خوبیانې ورکړے شوې دي، دا اشرف المَخلوقات جوړ کړے شوے دے، پهٔ دې کښې چې کومه **د ټولو نه بنیادي خوبي ده هغه پهٔ اصل کښې اِنسان اشرف المَخلوقات او د خِلافت د منصب حقدار جوړوي، هغه عِلم دے**، لهذا مونږ له پکار دي چې مونږ هم ضرور بالضرور عِلمِ دِین زده کړو۔

## هُم علمائے کرام د انبیائے کرامو عَلَیہِمُ السَّلَام وارثان وي

شیخ ابن عربي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه لیکلي دي: اِنسانان پهٔ دوه قِسمه دي: **(1)**: یو اِنسان خو هغه دے کوم ته چې حیوانِ ناطِق (یعني خبرې کوونکے او شعور لرونکے ساه والا) وئیلے شي، هر هُغه کَس کوم چې د حضرت آدم عَلَيۡهِ السَّلَام پهٔ اولاد کښې دے، هغه حیوانِ ناطِق دے۔ **(2)**: دویم وي کامِل اِنسان، دا پهٔ اصل کښې هغه دے کوم چې د خِلافت حقدار دے، **کوم ته چې اَشْرَفُ الْمَخْلُوْقَات وئیلے شوے دے، هم دا پهٔ اصل کښې اِنسان دے**۔

او دا کامِل اِنسان وي څوک؟ فرمائي: د ټولو نه کامِل اِنسانان انبیائے کرام عَلَیہِمُ السَّلَام دي، بیا د دوئي نه پس هُغه انسانان کمال ته رسیږي کوم چې د انبیائے کرامو عَلَیہِمُ السَّلَام وارثان وي۔ [1] د انبیائے کرامو عَلَیہِمُ السَّلَام وارثان څوک دي؟ **حدیثِ پاک** دے، رسولِ ذِیشان، مکي مَدَني سلطان صَلَّی اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: **اِنَّ الْعُلَمَاءَ وَرَثَةُ الْاَنْبِيَاءِ، اِنَّ الْاَنْبِيَاءَ لَمْ يُوَرِّثُوا دِيْنَارًا وَّلَا دِرْهَمًا اِنَّمَا وَرَّثُوا الْعِلْمَ** بے شکه علمائے کرام د انبیائے کرامو عَلَیہِمُ السَّلَام وارثان دي، بے شکه انبیائے کرام عَلَیہِمُ السَّلَام پهٔ میراث کښې درهم او دینارونه نهٔ پریښي بلکې صرف او صرف عِلم پریښي۔ [2]

**خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو!** د دې نه معلومه شوه چې پهٔ اصل کښې کامِل انسان، هُغه دے څوک چې د خِلافت حقدار دے، اشرف المَخلوقات دے، او هغه صاحبِ

---

[1]... الانسان الکامل، صفحه:9، 10 خلاصةً۔

[2]... ترمذی، ابواب العلم، باب ما جاء في فضل الفقه على العبادة، صفحه:631، حدیث:2682۔

عِلم دے۔ ځکه مونږ له پکار دي چې عِلمِ دِين زده کړو، په دې باندې عمل هم اوکړو او نورو ته يـې هم وښايو د پاره د دې چې د خپل اصلي منصب حقدار جوړ شو۔

## د علمائے کرامو درجې اوچتولے کيږي

په 28 سيپاره، سُورةُ المُجَادَلة، آيت 11 کښې الله پاک اِرشاد فرمائي:

| | |
|---|---|
| يَرۡفَعِ اللّٰهُ الَّذِيۡنَ اٰمَنُوۡا مِنۡكُمۡ ۙ وَ الَّذِيۡنَ اُوۡتُوا الۡعِلۡمَ دَرَجٰتٍ ؕ (پاره:28، سُورةُ المُجَادَلة:11) | ترجمهٔ کنزُالعِرفان: الله ستاسو نه د ايمان والؤ او د هغه خلقو درجې اوچتوي کومو ته چې عِلم ورکړے شو۔ |

صحابئ رسول، سلطان المُفَسِّرين، حضرت عبد الله بن عباس رَضِیَ اللهُ عَنۡهُمَا د دې آيت په تفسير کښې فرمائي: علمائے کرام به د عامو مؤمِنانو نه 700 درجې اوچت وي او د هغوئي د هرو دوو درجو ترمينځه به د 500 کالو مزل وي۔ (1)

## د 72 صِدّيقينو ثواب

د حضرت اُمامه بَاهِلي رَضِیَ اللهُ عَنۡهُ نه روايت دے، رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: څوک چې د عِلمِ (دِين) په زده کولو او عبادت کولو کښې لوئي شو او د لوئيدو په حالت کښې هم داسې پاتې شو، نو الله پاک به د قيامت په ورځ هغهٔ ته د 72 صِدّيقينو ثواب عطا کوي۔ (2)

## عِلمِ دِين زده کول ولې ضروري دے؟

د حضرت مُعاذ بن جبل رَضِیَ اللهُ عَنۡهُ نه روايت دے، رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: عِلم حاصل کړئ! ځکه چې ❁ د الله پاک د رضا د پاره عِلم زده کول د الله

---

[1] … قوت القلوب، جلد:1، صفحه:241۔

[2] … معجم الکبير، مکحول الشامي عن ابي امامه، جلد:8، صفحه:129، حديث:7590۔ دار احياء التراث۔

پاک نه ويره ده ❁ د عِلم طلب عبادت دے ❁ د عِلم تکرار کول (يعني د سبق يادولو د پاره بيا بيا لوستل) تسبيح ده ❁ بے عِلمه ته عِلم ښودل صدقه ده ❁ عِلم پۀ اَهل لرونکو خلقو باندې خرچ کول نيکي ده ❁ عِلم د حلالو او د حرامو د پيژندلو ذريعه ده ❁ عِلم د جَنَّتيانو د لارې نخښه ده ❁ عِلم د راحت سبب دے ❁ عِلم د لارې ملګرے دے ❁ عِلم د تنهايۍ ملګرے دے ❁ عِلم پۀ تنګدستۍ او مالدارۍ کښې راهنما دے ❁ عِلم د دښمنانو پۀ مقابله کښې وسله ده ❁ عِلم د دوستانو پۀ نزد ښائست دے ❁ الله پاک د عِلم پۀ ذريعه قامونه عروج ته رسوي ❁ الله پاک د عِلم پۀ ذريعه قامونه اِمامان جوړوي، بيا پۀ دوئي پسې تلل کيږي ❁ د علماؤ رائے اخري حرف ګڼلے کيږي ❁ فرښتے د علماؤ پۀ دوستۍ کښې رغبت لري ❁ د علماؤ د پاره د وچې او د لـمدې هر څيز، د دې پورې چې پۀ سمندر کښې مهيان او پۀ وچه ځناور، ټول د بخښنې دعاګانې کوي ❁ عِلم د زړۀ ژوند دے ❁ عِلم پۀ تيارۀ کښې د سترګو نُور دے ❁ د عِلم پۀ ذريعه انسان د اوليائے کرامو منزلونه بیاموي ❁ عِلم د عمل اِمام دے ❁ عمل د عِلم تابع دے ❁ د خوش قِسمتو پۀ زړونو کښې عِلم اچولے کيږي ❁ او بد بخته د عِلم نه محرومه کولے شي - (1)

## هُم عِلمِ دِين زده کول ولې ضروري دي؟

خوږو او محترمو اِسلامي ورونو! عام طور چې کله د عِلم خبره کيږي نو بعضې خلق وائي چې اخِر هم عِلمِ دِين زده کول ولې ضروري دي، د دُنيا عِلم خو هُم عِلم دے، بيا د عِلم سره د دِين قيد ولې لګولے کيږي؟ د دې پۀ جواب کښې عرض دا دے چې دا قيد بَل چا نۀ بلکې الله پاک پخپله لګولے دے، پۀ 21 سيپاره، سوره رُوم کښې اِرشاد دے:

---

1 ... الترغيب والترهيب، كتاب العلم، صفحه:42 و 43، حديث:8 ملتقطاً۔

وَ لٰكِنَّ اَكْثَرَ النَّاسِ لَا یَعْلَمُوْنَ(۶) یَعْلَمُوْنَ ظَاهِرًا مِّنَ الْحَیٰوةِ الدُّنْیَا ۚۖ وَ هُمْ عَنِ الْاٰخِرَةِ هُمْ غٰفِلُوْنَ(۷) (پاره:21، سورۂ الروم:76)

ترجمهٔ کنزُالعِرفان: خو اکثر خلق نهٔ پوهیږي- د سترګو وړاندې دُنیاوي ژوند پیژني، او هغوئي د اخرت نه بالکل غافله دي-

د دې آیت مبارک پهٔ تفسیر کښې علامه نسفي رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه لیکلي دي: دلته الله پاک د جهالت دوه قِسمونه بیان کړي دي: (1): یو جهالت دا دے چې بنده هډو پهٔ څهٔ پوهیږي نهٔ، لکه څنګه چې دلته ډیر خلق بالکل اَن پړهه وي، هغوئي له خپل نوم لیکل هم نهٔ ورځي (2): د جهالت دویم قِسم دے:

یَعْلَمُوْنَ ظَاهِرًا مِّنَ الْحَیٰوةِ الدُّنْیَا ۚۖ وَ هُمْ عَنِ الْاٰخِرَةِ هُمْ غٰفِلُوْنَ(۷)

یعنې هُغه کَس کوم چې د ظاهري دُنیا معلومات خو ډیر زیات لري خو د اخرت نه بالکل غافله دے، دهٔ ته اګر که اَن پړهه نشي وئیلے کیدے، البته دا هم جاهل دے-[1]

اوس وګورئ چې څومره هم دُنیائي عِلمونه دي، هغه مونږ ته صرف د ظاهري دُنیا حالونه وائي، مثلاً ❁ پهٔ ریاضۍ کښې مونږ ته حساب کتاب ښودلے کیږي ❁ فزکس (یعنې طبیعیات) د مادې (***Matter***) پهٔ باره کښې معلومات ورکوي، مثلاً یو وجود حرکت څنګه کوي، ودریږي څنګه؟ د دې خاصیتونه څهٔ دي؟ وغیره ❁ دغه شان بائیولوجي ده، پهٔ دې کښې د ساه لرونکو پهٔ باره کښې معلومات وي ❁ ارضیات، فلکیات، بینکنګ، انجنیئرنګ وغیره وغیره چې څومره هم علمونه دي، پهٔ دې ټولو کښې هُم د ظاهري دُنیا معلومات دي-

د اخرت معلومات مثلاً ❁ د الله پاک پیژندګلو ❁ د رسول الله صَلَّی اللهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم شان مبارک ❁ جَنَّت او د دوزخ ❁ د قیامت معلومات ❁ پهٔ اخرت کښې کوم یو خیز نقصان

[1]... تفسیر مدارک، پاره:21، الروم، زیر آیت:7، جلد:2، صفحه: 691 خلاصةً- دار الکلم الطیب بیروت-

رسوي ❀ کوم يو څيز فائده ورکوي ❀ په اخرت کښې د نجات دار و مدار په کومه خبره باندې دے؟ ❀ اِيمان څه شے دے؟ ❀ نيکي څه ته وئيلے کيږي؟ ❀ باطِني بيمارياني څه دي؟ ❀ د دې عِلاج څه دے؟ وغيره وغيره دا ټول معلومات مونږ ته د چرته نه ميلاوېږي؟ د قرآنِ کريم نه، د حديثونو نه، د دِين د علمائے کرامو د ليکلے شوو کتابونو نه ميلاوېږي او دې ته عِلمِ دِين وئيلے کيږي۔

څکه د ضرورت په توګه دُنيائي علمونه لوستل اګر که جائز دي خو د اخرت په لحاظ سره فضيلت صرف د عِلمِ دِين دے۔

## د عِلم په برکت اخلاقي جوړ شو

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! عِلمِ دِين پخپله هم لولئ! او خپل اولاد هم په عِلمِ دِين کښې ولګوئ! اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِيم! د دې نه به ډيرې فائدې حاصلې شي، که اللّٰه پاک وغوښتل نو دُنيا به مو هم ښه شي، اخلاق به مو هم ښه شي، کردار به مو هم ښه شي او اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِيم! په قبر او اخرت کښې به هم د دې برکتونه درنصيب شي۔

د قصور (پنجاب، پاکستان) د يو اِسلامي ورور د ليکلو خلاصه ده چې زه د دعوتِ اِسلامي دِيني ماحول ته د راتللو نه مخکښې د ډيرو خرابو اخلاقو مالِک ووم، د سکول د دوستانو سره به مې په شريکه کله د بس د کنډيکټر سره جګړې کولې نو کله به د طالبِ علمانو سره۔ د سکول ټول طالبِ علمان زما د دې حرکتونو نه ډير تنګ شوي وو۔ يو ځل يو اِسلامي ورور زما والد صاحب ته سفارش اوکړو چې خپل ځوي د دعوتِ اِسلامي په جامعة المدينه کښې داخِل کړئ! اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِيم! يو څو کاله پس به ستاسو ځوي با عمله عالِمِ دِين جوړ شي او د خپلې اِصلاح سره سره به د ټولې دُنيا د خلقو د اِصلاح کوشش کولو والا جوړ شي۔ د ټولو نه زيات دا چې په اخرت کښې به ستاسو د نجات ضامِن وي۔ بس بيا څه وو، هغوئي فوراً زه په جامعة المدينه کښې داخِل کړم۔ په جامعة المدينه کښې د داخِلې اخستو نه پس زما اخلاق ورځ په ورځ ښه کيدل شروع شو، د جنګ

جګړو نه د بچ کیدو او په خپل مینځ کښې په مینه محبت سره د اوسیدو ذِهن مې جوړ شو، د نــمونځونو د پابندۍ سره سره د عِلمِ دِین د خزانې نه د مالا مال کیدو سعادتونه حاصلیدل شروع شو- داسې د عِلمِ دِین په برکت یو خراب شوے کَس صحیح شو او نیک نــمونځ ګزاره جوړ شو-

دعوتِ اسلامی کی قیُّوم اِک اِک گھر میں مچ جائے دھوم
اس پہ فدا ہو بچہ بچہ یاالله! میری جھولی بھر دے

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** دا د عِلمِ دِین برکتونه دي، مونږ له هم پکار دي چې د عِلمِ دِین زده کولو والا جوړ شو- حضرت سفیان ثوري رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡہ ډیر لوئې عالِمِ دِین او کامِل ولي تیر شوے دے، هغوئې فرمائي: **عِلم زده کړئ! زما سره ویره ده چې که دا عِلم ستاسو د لاس نه ووتو او د غیرو [خلقو] خوا له لاړو (نو تاسو به ذلیله شئ-)** عِلم زده کړئ! دا د دُنیا او د اخرت عزت دے- [1]

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** د حضرت سفیان ثوري رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡہ فرمان خومره رښتونے دے، هغوئې د نن نه تقریباً دیارلس نیم سوه [1350] کاله مخکښې فرمائیلي وو چې عِلم د دُنیا او د اخرت د عزت ذریعه ده، **که دا عِلم ستاسو د لاس نه ووتو او د غیرو [خلقو] خوا له لاړو نو تاسو به ذلیله شئ-**

نن د مسلمانانو حالت ته وګورئ، د عِلمِ دِین نه د لرې والي په وجه خومره د ذِلت او رسوایۍ سره مخ دي، تر څو پورې چې عِلمِ دِین په خپل عروج کښې وو، د ټولو سره د خپلو ذمه وارو اِحساس وو او ټولو به د دُنیا او د اخرت د کامیابۍ د پاره کوششونه کول- د کله نه چې مسلمانان د عِلمِ دِین نه لرې شوي دي، په ورو ورو په ټولو شعبو کښې په غفلت کښې راګیر شول او اخر د هغه ذِلت سره مخ شول، کوم چې هر یو نن په خپلو سترګو ویني-

---

[1] ... حلیة الاولیاء، جلد:6، صفحه:407، رقم:9151 ملتقطًا-

د دې عِلاج يعنې د عزت بيا د بحالولو هم يوه طريقه ده چې مونږ يو وارې بيا عِلمِ دِين زده کړو، خپلو بچو ته عِلمِ دِين وښايو، د عِلمِ دِين محبت په زړهٔ کښې کښينوو- الله پاک دې مونږ ټولو ته د عمل کولو توفيق راعطا کړي-

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم۔

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## دعوتِ اِسلامي او د عِلمِ دِين وده

اَلْحَمْدُلِلّٰه! د دعوتِ اِسلامي ډيرې زياتې شعبې دي کومې چې په معاشره کښې د عِلم په نُور تقسيمولو کښې مصروفه دي مثلاً ❁ **مدرسة المدينه (بوائز/گرلز)**: په دې کښې هلکانو او جينکو ته د صحيح تلفظ سره د قرآنِ کريم د حفظ او ناظرې مفت تعليم ورکولے کيږي، اَلْحَمْدُلِلّٰه! د پاکستان په مختلفو ښارونو کښې **مدرسة المدينه سپيشل پرسنز** هم کار کوي، په کومو کښې چې نابينا کسانو ته د قرآنِ کريم د (حفظ او ناظرې) تعليم ورکولے کيږي ❁ د دعوتِ اِسلامي يوه شعبه ده: **مدرسة المدينه بالغان و بالغات**: په دې کښې د ډير عمر اِسلامي ورونړو او اِسلامي خوئيندو ته د صحيح تلفظ سره د قرآنِ پاک تعليم ورکولے کيږي ❁ دغه شان **جامعة المدينه (بوائز/گرلز)**: په دې کښې په جينکو او هلکانو طالبِ علمانو درسِ نظامي (يعني عالِم او عالِمه کورس) کولے شي او د دِين نور علوم ښودلے کيږي ❁ **فيضان آن لائن اکيډمي**: په کومه کښې چې د قرآنِ کريم حفظ او ناظره، درسِ نظامي (عالِم کورس) او د دِين نور علوم آن لائن ښودلے شي ❁ **هفته واره د سُنّتو اِجتماع**: د هر زيارت په ورځ د ملک او بهر ملکونو په مختلفو ښارونو کښې هفته واره اِجتماع کيږي، په کومه کښې چې د تلاوت، نعت او بيان سره سره په اخره کښې د زده کولو، ښودلو حلقې هم لګولے شي ، کومو کښې چې په مختلفو موضوعاتو باندې عِلمِ دِين ښودلے شي ، هفته واره اِجتماع د عِلمِ دِين د زده کولو او د ظاهري او د باطِني اِصلاح بهترينه ذريعه ده ❁ **هفته واره مَدَني مذاکره**: شيخِ طريقت، اميرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د

هر خالي پهٔ ورځ پهٔ مَدَني چينل باندې نيغ پهٔ نيغه (*Live*) مَدَني مذاكره فرمائي (يعنې د ټولې دُنيا نه د عاشقانِ رسول د سوالونو جوابونه عطا) كوي، د الله پاک پهٔ فضل سره مَدَني مذاكره د شريعت او طريقت، د ظاهري او د باطِني علم د زده كولو بهترينه ذريعه ده ❁ پهٔ 12 دِيني كارونو كښې يو دِيني كار: **دَرس**- عاشقانِ رسول پهٔ جوماتونو كښې دَرس وركوي، پهٔ دې باندې هم عِلمِ دِين عام كيږي، دغه شان پهٔ كوڅو، بازارنو، سكولونو، كالجونو وغيره كښې چوک درس هم كيږي، هغه خلق كوم چې د جومات د حاضرۍ نه محرومه پاتې كيږي يا پهٔ څهٔ وجه پهٔ جومات كښې د درس اوريدو نه محرومه كيږي، د چوک دَرس پهٔ بركت هغوئي ته هم عِلمِ دِين رسيږي ❁ پهٔ 12 دِيني كارونو كښې يو دِيني كار دے: **د تفسير اوريدو، بيانولو حلقه**، عاشقانِ رسول د سحر د نـمونځ نه پس پهٔ جوماتونو كښې حلقې لګوي، پهٔ دې كښې د **تفسير صِراطُ الـجنان** نه 2 صفحې د ترجمې او تفسير سره د لوستو اوريدو ترتيب وي، دَرس هم وي او اَوراد او وظيفې هم لوستلے كيږي ❁ **قافِله**: د عِلمِ دِين د زده كولو، نورو ته د رسولو او د ځان او د نورو د اِصلاح د كوشش بهترينه ذريعه ده، اَلْحَمْدُلِلّٰه! پهٔ ټوله دُنيا كښې پهٔ لكونو عاشقانِ رسول د دريو ورځو، 12 ورځو، د يوې مياشت او د 12 مياشتو پهٔ قافِلو كښې سفر كوي، دا خوش قِسمته پخپله هم عِلمِ دِين زده كوي او نورو ته يې هم رسوي ❁ **هفته واره رساله مطالعه**: شيخِ طريقت، اميرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه هره هفته د ټولې دُنيا عاشقانِ رسول ته د يوې رسالې د لوستو هدف وركوي- مختصره او ډيره معلوماتي رساله وي، اَلْحَمْدُلِلّٰه! د ټولې دُنيا پهٔ لكونو عاشقانِ رسول د دې رسالې د لوستلو يا د آډيو (*Audio*) د اوريدو سعادت حاصلوي ❁ دغه شان د دعوتِ اِسلامي خاص عِلمي او تحقيقي شعبه ده: **الـمدينةُ العلميه** ***(Islamic Research Center)***- پهٔ دې شعبه كښې مَدَني علمائے كرام پهٔ نوو نوو موضوعاتو باندې دِيني كتابونه او رسالې ليكي ❁ دغه شان د دعوتِ اِسلامي يوه شعبه ده: **دارُ السُّنَّه**: د ملک او بهر ملكونو پهٔ مختلفو ښارونو كښې دا شعبه قائمه ده، د دې شعبې خاص خبره دا ده چې پهٔ دې كښې

د وخت هيڅ قيد نشته، څوک چې څومره وخت پهٔ اسانۍ سره ورکولے شي، دارُ السُّنَّه ته دې راځي او د عِلمِ دِين د زده کولو سعادت دې حاصلوي- ❁ مَدَني چينل: يو برقي (*Electric*) مبلغ دے، کوم چې د الله پاک پهٔ فضل سره کور کور ته پهٔ رسيدو د عِلمِ دِين پهٔ فيضان عام کولو کښې مصروف دے، اَلْحَمْدُلِلّٰه! پهٔ مَدَني چينل باندې هيڅ اِشتهارونه (*Advertisement*) نهٔ راځي، د سازونو او ميوزک نه بالکل پاک دے، پهٔ 24 ګينټو کښې چې کله هم تاسو ته موقع ميلاؤيږي، مَدَني چينل لګوئ او د عِلمِ دِين د ملغلرو نه جولۍ ډکوئ، اَلْحَمْدُلِلّٰه! مَدَني چينل د دعوتِ اِسلامي هٔغه ځانګړې او بے مثاله کارنامه ده، کومې چې پهٔ معاشره کښې د زرګونو ژوند بدل کړے دے، مَدَني چينل پهٔ کور کښې پهٔ ناسته عِلمِ دِين ښائي او کورونه د امن نه ډکوي ❁ سوشل ميډيا: د کمپيوټر پهٔ دې دور کښې ټيکنالوجي عروج ته رسيدلې ده- اَلْحَمْدُلِلّٰه! دعوتِ اِسلامي د جديد ټيکنالوجۍ پهٔ ذريعه هم پهٔ عِلمِ دِين عام کولو کښې مصروف دے، پهٔ فيس بک(*Facebook*)، انسټاګرام (*Instagram*)، واټس ايپ (*Whats App*)، ټوئټر (*Twitter*) او يوټيوب (*YouTube*) وغيره باندې د دعوتِ اِسلامي مختلف پيجز (*Pages*) جوړ کړے شوي دي، ويب سائټس(*Websites*)هم دي، د کومو پهٔ ذريعه چې د قرآن او سُنَّت پيغام عام کولے کيږي، د دعوتِ اِسلامي ***I.T*** ډيپارټمنټ مختلف ايپلي کيشنز جوړوي، مثلاً تفسير صِراطُ الـجِنان موبائل ايپلي کيشن: د دې ايپلي کيشن پهٔ ذريعه د قرآنِ پاک د ترجمې او تفسير سره پهٔ لوستلو د قرآنِ پاک پهٔ نُور باندې خپله سينه منوره کولے شئ، دغه شان بهارِ شريعت موبائل ايپلي کيشن: د دې پهٔ ذريعه دِيني مسئلې لوستلے او زده کيدے شي، داسې نور هم ډير ايپلي کيشنز دي-

اللّٰہ کی نعمت ہے یہ دعوتِ اسلامی
آقا کی عنایت ہے یہ دعوتِ اسلامی
اسلام کی تعلیمات اور دین کے احکامات
سِکھلاتی شریعت ہے یہ دعوتِ اسلامی

سرکار کی دُکھیاری اُمّت کی ہے خیر اَندیش | اور خادمِ مِلّت ہے یہ دعوتِ اسلامی[1]

راځئ چې مونږ ټول په شریکه د نیکۍ د دعوت عام کولو په دې عظیم کار کښې د دعوتِ اِسلامي ملګرتیا اوکړو او الله او رسول صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم خوشحاله کړو او د جَنَّت حقدار جوړ شو۔

الله کرم ایسا کرے تجھ پہ جہاں میں | اے دعوتِ اسلامی! تری دھوم مچی ہو[2]

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب! صَلَّی اللہُ عَلٰی مُحَمَّد

د بیان په اخره کښې راځئ چې یوه شرعي مسئله زده کړو:

## صحیح څۀ دي؟

(د صحیح شرعي مسئلې یا په خلقو کښې د پرتې غلط فهمۍ په ګوته کول)

**مسئله:** په جنازه کښې د سلام ګرځولو او د لاسونو د پرېښودو صحیح طریقه۔

**وضاحت:** بعضې خلق د جنازې د څلورم تکبیر نه پس په دې سوچ کښې وي چې لاسونه پرېږدو او سلام وګرځوو یا په تړلو لاسونو سلام وګرځوو۔ دلته بعضې خلق په تړلو لاسونو سلام ګرځوي او بعضې په لاس پرېښودو او بعضې چې ښي اړخ ته سلام وګرځوي نو ښۍ لاس پرېږدي او کله چې ګڅ اړخ ته سلام وګرځوي نو ګڅ لاس پرېږدي۔ صحیح طریقه واورئ، کله چې اِمام څلورم تکبیر (یعني الله اکبر) ووائي نو تاسو هم تکبیر ووایئ او دواړه لاسونه پرېږدئ او لاندې یې زوړند کړئ او د اِمام صاحب سره سلام وګرځوئ۔ او دا اُصول یاد ساتئ، د کوم تکبیر نه پس چې ذِکر کول سُنَّت وي د هغه تکبیر نه پس به لاسونه تړئ لکه څنګه چې په نـمونځ کښې وایئ، د هغې نه پس ثنا لولئ او د ماسخوتن د نـمونځ نه پس په دریو وِترو کښې د تکبیر نه پس دُعائے قنوت

---

[1] ...وسائلِ فردوس، صفحه:4644 ملتقطًا۔

[2] ...وسائلِ بخشش، صفحه:315۔

لولئ او پۀ کوم کښې چې د تکبیر نه پس ذِکر کول سُنَّت نۀ وي پۀ هغې کښې لاسونه کولاؤ پریږدئ لکه څنګه چې د اختر پۀ تکبیرونو کښې پریږدی- (1) د صدر الشریعه مفتي امجد علي اعظمي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه نه پوښتنه وشوه چې پۀ جنازه کښې پۀ لاسونو پریښودو سلام ګرځول پکار دي که پۀ تړلو لاسونو یا دواړه جائز دي؟ نو مفتي امجد علي اعظمي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه وفرمائیل: پۀ لاسونو پریښودو سلام ګرځول پکار دي- دا خیال چې پۀ تکبیرونو کښې لاسونه تړلي ساتل سُنَّت دي، لهذا د سلام پۀ وخت هم لاسونه تړل پکار دي دا خیال غلط دے- (2)

الله پاک دې مونږ ته د صحیح اِسلامي احکامو د زده کولو او پۀ هغې باندې د عمل کولو توفیق راعطا کړي- اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللهُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم-

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب! صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

## د اَسمَاءُ الـحُسنیٰ برکتونه (وظیفه)

### یَا وَکِیلُ

څوک چې روزانه 7 کرته مازیګر یَا وَکِیلُ لولي، اِنْ شَآءَ اللهُ الْکَرِیم! د افت نه به پناه مومي- (3)
الله پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفیق راعطا کړي-

اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللهُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم-

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب! صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

---

[1] … دار الافتاء اہلسنت غیر مطبوعہ، فتویٰ نمبر: Fsd8583۔

[2] … فتاویٰ امجدیہ، جلد: 1، صفحہ: 317۔

[3] … مدنی پنج سورہ، صفحہ: 253۔